زلمی نصرت ۲۰۱۷/۰۶/۱۳

# اې د وطن اتل سر بازه

**اې د ملی اردو سربازه**
**د آزادی د لار جانبازه**
**بیرغ دې لاس کې تینګ رپیږي**
**لکه شاهین د غرونو بازه**
**د حماسو د نغمو سازه**
*****

**سر کې تړلی دې کفن دی**
**مرچل دې جوړ د وطن ننګ دی**
**فخر لرې له حد بې حده**
**اې د وطن اتل سر بازه**
**د حماسو د نغمو سازه**
*****

**تاسو ساتلی خپل وطن دی**
**هم کلی کور او هم ګلشن دی**
**د ټول هیواد د ژوند حفاظه**
**اې د وطن اتل سر بازه**
**د حماسو د نغمو سازه**

۱۲-۰۶-۲۰۱۷
وایله
دنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ